شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(۸) صفحه

شماره مسلسل (۸۳۹) سال هفدهم ،شماره (۷۷) سه شنبه (۲۹) سنبله ۱۳۷۳ هـ ش ، (۱۵) ربیع الثاني ۱٤۱۵ هـ ق ، (۲۰) سپتمبر۱۹۹٤ م

قیمت (۱۰۰) افغاني (۲ روپیه)

دنظار شوراګڼ شمیر پلویان :

دسالنګ جګړي ته دبیولو په وخت کي وتښتیدل

کابل دوږي (۲۸) مه

دکابل ولایت څخه شوراي نظارته نږدي یوه موثقه منبع خبر راکوي چي دروان کال دوږي دمیاشتي په (۲۱) مه او (۲۲) مه نیټه دنظار شورا مشرمسعود دکورنیو چارودوزارت پرسونل په جبري توګه دیته ارکړل چي دسالنګ په جګړوکي برخه واخلي خبرڅاي لیکي چي د نوموړي پرسونل ټول مخکي له دي چي دجګړي په لورحرکت وکړي دکورنیو چارولو وزارت څخه وتښتیدل.

دیوه بل خبر له مخي ویل کیږي چي دنظار شورا مشر ددوهم ځل لپاره دوږي دمیاشتي په (۲۳) مه نیټه ؛نوموړي پرسونل بیا ددي لپاره چي خپل ځومیاشتني معاشونه ورته تسلیم کړي اوبیابي جګړي ته ولیږي دکورنیو چاروورازت ته راوغوښتل هغوي دوقت نه په استفادي سره بیاجګړي ته دلیږلو په وخت وتښتیدل اودنظارشورا موړال یي ډیر راغورځولي دي.

بیش از ۱۷۰۰ تن ازمسلمانان بوسنیایي درساحهٔ تحت کنترول صربها ازمنازل شان اخراج شد .

سرایوو - ۲۸ سنبله:

دراثرتازه ترین موج تصفیه نژادي ذریعهٔ صرب هاي بوسنیا صدهاتن ازمسلمانان ازشمال شرق بوسنیا هرزوگوینا بااعمال زور ازخانه وکاشانه شان اخراج وازمنطقه محل سکونت شان بیرون رانده شده اند طبق گزارش- صلیب احمرین المللي میگوید : درساحه بیرویرجینا بیش از (۱۷۰۰) تن ازمسلمانان از منازل شان اخراج شده‌اند ودرشهر هاي دیگرتحت کنترول صربي ها سلسله اخراج مسلمانان جریان دارد .

زماني که صربي ها پالیسي تصفیه نژادي راازاواسط ماه جون ازسرگرفتند ، این بزرگترین اخراج جبري مسلمانان بوسنیا از منازل شان خوانده شده است.

طبق گزارش دیگراز روز پنجشنبه به این طرف شهر سرایووفاقد آب ،برق و گاز طبیعي شده است.

توسط جنگنده هاي نیروهاي شوراي همآهنگي :

مواضع ادارهٔ ائتلافی دربگرام ،پغمان وقرغه موردحملهٔ هوایی قرارگرفت

کابل - ۲۷ سنبله :

طیارات جنگنده شوراي عالي همآهنگي روز یك شنبه چندین پایگاه نظامي دشمن را درکابل بمباران نموده که درنتیجه تلفات وخسارات شدیدي به آنها وارد گردید.

گزارشگر رادیو تلویزیون "پیام آزادي" به نقل از یك منبع نظامي شوراي عالي همآهنگي گزارش میدهد : درین حملات مراکز نظامي دشمن درپغمان قرغه ومیدان هوایي بگرام هدف پرتاب بمب وراکت قرارگرفت. طبق گزارش سه دستگاه تانك دشمن معهٔ پرسونل آن درقرغه ازبین رفته وهمچنان دوفروند طیاره جت و دودیپوي سلاح ومهمات درمیدان هوایي بگرام طعمهٔ حریق گردیده است . ازتلفات وخسارات وارده بردشمن درپغمان گزارش نشده است.

برتانیي دشمالي ایرلیند په برخه کي خپله پالیسي بدله کړه

لندن دوږي (۲۸) مه.

برتانیي د(۲۵) کلن جنګ دختمولو په منظور دشمالي آیرلیند په برخه کي په خپله پالیسي کي مهم تغیرات اعلان کړي دي اوپدي کارسره یي دآیرلند دجمهوري غوښتونکي پوځ مقامات خوشحاله کړي .

دبرتانیي صدراعظم جان میجر بلفاست ته په یوه ناڅاپي سفرکي دآیرلیند دجمهوري غوښتونکي پوځ دسیاسي څانګي شینفین دخپرونو شپږکلن بندیز لـري کړ.

دپلچرخي په ساحه کي دمولوي صدیق الله :

دریوسرګروپانو خپل مرکزونه دحزب اسلامي د"سما" فرقي له مجاهدینو سره یوځاي کړل

کابل دوږي (۲۸) مه

دکابل ولایت دپلچرخي سیمي څخه دحزب اسلامي دسما فرقي دویاړمنو غازیانو جهادي - قوماندانانو خبر راکوي چي دروان کال دوږي دمیاشتي په (۲٦) مه نیټه دپل چرخي په ساحه کي دمولوي صدیق الله دریو سرګروپانو خپل امنیتي مرکزونه دحزب اسلامي دسما فرقي ویارمنو غازیانو ته تسلیم اودوي په خپله له هغوي سره یوځاي شول.

خبر ځاي لیکي چي دنوموړو سرګروپانو ددي نیك اقدام په ترڅ کي دهغوي ګڼ شمیر مجاهدین له خپلو درندو اوسپکووسلو سره یوځاي دسمافرقي دمجاهد پنو ترڅنګ دائتلافي کمونستو ملیشو په خلاف خپل جهاد پیل کړي اودتل له پاره یي له ائتلافي کمونستو ملیشو سره خپلي اړیکي شلولي اوکرکه یي تري څرګنده کړي ده .

دبغلان په ولایت کي :

درحمان په نامه دجمعیت یومشهورقوماندان دحزب اسلامي له مجاهدینو سره خپل قوتونه یوځاي کړل

بغلان دوږي (۲۸)

دبغلان ولایت څخه دحزب اسلامي نومیالي قوماندان دګرجنرال ماموړغیور په خپل یوه مخابروي ریوټ کي وایي چي دروان کال دوږي دمیاشتي په (۲٦) مه نیټه دجمعیت یومشهورقوماندان په نامه درحمن له خپلو (۵۰) کسووسلوالومجاهدینوسره یوځاي دحزب اسلامي مجاهد پنو ته تسلیم اوله ائتلافي اداري څخه یي خپله کرکه اونفرت څرګند کړ.

جنرال صاحب غیور وایي چي نوموړي قوماندان دپخوانه دحزب اسلامي سره خپلي اړیکي ټینګي کړي وي اودجمعیت له قوماندان عبدالحي حقجو څخه یي خپله رابطه شلولي وه .

دلغمان ولایت ددولت شاه په ولسوالي کي :

دائتلافي ملیشو(٤)قوماندانان ژوندي ونیول شول

لغمان دوږي (۲۸) مه

دلغمان ولایت د دولت شا ولسوالي څخه رارسیدلي خبرونه وایي چي دروان کال دوږي دمیاشتي په (۲۷) مه نیټه دنوموړي ولسوالي دفرشغان په سیمه کي دائتلافي اداري څلورقوماندانان نظر محمد ، قدرت الله ،محمد طالب اوشیرمحمد له خپلو (۷۰) کسو پلویانو سره یوځاي چي دپنجشیر له لاري نوموړي سیمي ته داخل شوي وو، دالفتحي دقرارګاه دویاړمنوغازیانو دیوه مشترك پلان په نتیجه کي ژوندي ونیول شول.

خبرځاي لیکي چي نوموړو پلورل شویو غلامانو ته دمیلیونو نوپیسو په مقابل کي دستوروورکړشوي و چي دلغمان په ولایت کي یو لړ ګډ وډي رامنځ ته کړي .

خبر ځاي زیاتوي چي دلغمان ولایت ټولو مجاهدینو اوپه خاصه توګه دالفتحي دقرارګاه غازیانو تصمیم نیولي چي ددښمنو قواوو هرپلان به له ماتي سره مخامخ اوشنډ کړي .

ائتلافي کمونستوپیلوټانو دیولړوحشیانه بمبارۍ په ترڅ کي :

دکابل دجنوب لویدیځو سیمو خلکو ته درانده مالي اوځاني تاوانونه واړول

کابل دوږي (۲۸)مه :

دکابل ولایت له جنوب لویدیزوسیمو څخه راغلي عیني شاهدان وایي چي دکابل دائتلافي اداري کمونستو پیلوټانو دتیري چهارشنبي دورځي راهیسي دکابل ښارپه بیلابیلو سیمو کي خپلي وحشیانه بمباري پیل کړي اودسیواوسیدونکوته یي درانده تاوانونه اړولي دي.

نوموړي شاهدان وایي چي پرون دوږي دمیاشتي په (۲۷) مه نیټه ائتلافي کمونستو پیلوټانو دکابل جنوب لویدیزي سیمي ترخپلو وحشیانه بمباریو لاندي ونیوي چي په نتیجه کي دسیمي (۲٤) بي ګناه اوسیدونکي ټپیان او(٤) نوردشهادت لورمقام ته ورسیدل.

براساس بیانیه وزارت خارجه سودان :

علت هیاهوی تبلیغاتی امریکا دشمنی باخط مشی مستقل سودان است

خرطوم - ۲۸ سنبله :

سودان باردیگر اتهامات امریکا را مبني برحمایت خرطوم از تروریزم ،رد کرده‌است.

گزارش خبرگزاري ایران حاکیست : وزارت خارجه سودان شب گذشته باصدور بیانیه اي تاکید کرد امریکا هیچگونه دلیلي براي اثبات اتهامات بي اساس خود درمورد حمایت سودان ازتروریزم ندارد.

سفیر امریکادر خرطوم اخیراً ادعاکرده بود که گروه هاي فلسطیني در پایگاهي درسودان آموزش تروریستي مي بینند.

درگزارش وزارت امورخارجه سودان تصریح شده است که علت هیاهوي تبلیغاتي امریکا دشمني باخط مشي مستقل سودان است.

الن ژوپه وزیر امورخارجه فرانسه :

آزادی زندانیان سیاسی الجزایر گام مهمی درحل بحران آنکشوراست

پاریس - ۲۸ سنبله :

وزیر امورخارجه فرانسه میگوید : آزادي زندانیان سیاسي الجزایر گام مهمي درمسیرحل بحران آنکشوراست.

به گزارش خبرگزاري فرانسه ، آلن ژوپه روز گذشته به خبرنگاران گفت :البته این امرتاکنون دست آوردي نداشته است ژوپه افزود : مناقشه اصلي درالجزایر ازین پس بین جبهه نجات اسلامي وارتش خواهد بود . وي گفتگوي پاریس وجبهه نجات اسلامي رادر اوضاع وشرایط کنوني مردود دانست و افزود : فرانسه فعلاً هیچ طرحي براي گفتگو باسران

ص (۵)

یك قوماندان برجستهٔ جبههٔ نجات ملی به شهادت رسید

چترال-۲۷ سنبله؛

عبدالرزاق نورستاني یکتن ازقوماندانان برجسته جبهه نجات اسلامي افغانستان برهبري حضرت صبغت الله مجددي درولسوالي کامدیش نورستان شرقي، شب جمعه درمنطقه اي بنام نگرمربوط تحصیل دروش ضلع چترال پاکستان هدف حملهٔ افراد ناشناس قرارگرفته وکشته شد.

براساس گزارش رادیوي امریکا ، عبدالرزاق نورستاني از مدتي به اینطرف مسؤلیت محافظت ازجنگلات نورستان را بعهده گرفته بود.

تعدادي از قاچاقچیان جنگلات راقطع مینمایند و چوب چارتراش آنرا به پاکستان انتقال داده بفروش مي رسانند که این عمل آسیب بزرگي برسرمایه ملي ومحیط زیست واردمینماید.

طبق گزارش درنورستان قطع جنگلات وقاچاق آن به پاکستان یك سلسله

ص (۳)

غلام علي سالم امردفتر نمایندگي‌هاي حزب وحدت در پشاور:

افراد سیاف نیز درپهلوی حرکت با نیروهای وحدت اسلامی می جنگند

کابل - ۲۷ سنبله،

غلام علي سالم آمر دفتر نمایندگي حزب وحدت اسلامي در پشاور پاکستان روزیك شنبه اظهارداشته که جنگ امروزي (یك شنبه) درپل خشك دشت برچي ، پل سوخته ، کوته سنگي وسه راههٔ علاؤالدین ادامه داشت .

غلام علي سالم که با رادیوي امریکا صحبت میکرد ضمن توضیح وگسترش دامنه جنگ ،اظهار داشت :

افراد اتحاد اسلامي برهبري سیاف ازساعت (۳) شب شنبه وارد جنگ شده درخطوط مقدم جبهه درپل خشك ودشت برچي بالاي مواضع نیروهاي حزب وحدت اسلامي حمله نمودند که بعدا توسط نیروهاي حزب وحدت عقب زده شدند وپابفرارنهادند .

وي اظهار داشت که ابتدا افراد سیاف درین حمله ناگهاني تحت پوشش حرکت اسلامي شرکت نموده بودند ، وبعداً مستقیماً وبصورت علنيّ داخل میدان جنگ شدند.

په چاردهي کي دحزب اسلامي دانصارالله دغنډ درستیزوال استاد پیروز خان له شهادت سره په مرکه کي:

زمونږ مجاهد ولس اوس دبي ثمره جنګونو په اورکي سوځیږي

دروانو جنګونو اصلی عاملین کمونست جنرالان اودهغوی ائتلافی انډیوالان دی

په تاسف سره باید ووایم چي دهیواد روان حالات دځینو بهرني هیوادونو دلاس وهنو، اوځیني داخلي حلقاتو دقدرت طلبي په نتیجه کي دجهاد دمقتضیاتو پرخلاف رامنځ ته شوي اوهغه څه چي اوس زمونږ په هیواد کي جریان لري داټول داسلام ددښمنانو دتوطیو اودسیسو یوه مهمه برخه ده .

داخبري دکابل په چهاردهي ولسوالي کي دحزب اسلامي دانصارالله دغنډ رئیس ارکان استاد پیروز دشهادت له خبریال سره دیوي مرکي په ترڅ کي کړي.

(۷)مخ

درگیري میان نیروهاي شوراي همآهنگي و اداره ائتلافي تاحدي فروکش کرده است

کابل -۲۸ سنبله :

درگیري میان نیروهاي حزب وحدت اسلامي وحرکت اسلامي درغرب وجنوب غرب کابل همچنان جریان داشته ونیروهاي حزب وحدت اسلامي به فتوحات جدیدي نایل شده اند.

منابع موثق جهادي ازکابل گزارش میدهند ،روز یك شنبه درگیري میان نیروهاي حزب وحدت اسلامي ازیکطرف و نیروهاي شوراي نظار،حرکت اسلامي واتحاد ازجانب دیگراز شدت بیشتر برخوردار بود اما روز دوشنبه تاحدي ازشدت آن کاسته شده بود .

منبع میافزاید دردرگیري هاي روز یك شنبه ارتفاعات حاکم تپه سکد ازجمله قطارسنگ وسنگرهاي رادار که نسبت به مناطق همجوار بلند تر میباشد ،بدست

(۳)

اذربایجان دلویدیزوهیوادونو دتیلو کمپنیو سره د (۳٤) بیلیونو ډالرو قرارداد لاسلیك کوي

باکو دوږي (۲۸) مه

داذربائیجان حکومت دلویدیز و هیوادونو دتیلودکمپنیوسره د (۳٤) بیلیونو ډالرو دقراردادلاسلیکو ته نږدي شوي دي.

ددي قرار داد دلاسلیکولو له پاره دریو کلونو راهیسي کوښښونه پیل

(٥)مخ

سرمقاله

ادارهٔ ائتلافي آخرین نفس هاي خود رامیکشد ؟

دوهفتهٔ اخیر ایام نکبتبار براي ادارهٔ ائتلافي بود ، درین مدت ائتلاف درهر دومیدان سیاسي ونظامي درمقابله بانیروهاي شوراي همآهنگي به شکست هاي فاحشي روبروشد . درساحهٔ نظامي تحرکات نظامي نیروهاي وابسته به ائتلاف در ولایات وردك ولوگر خنثي شده ودرجریان دوهفته هر دو ولایت از وجود افراد مربوط به ادارهٔ ائتلافي پاکسازي گردید ،همچنان نیروهاي شوراي همآهنگي به سلسله عملیات تصفیوي شان درولایت بغلان ،نیروهاي دشمن راازولسوالي هاي دوشي ، تاله وبرفك وخنجان عقب رانده وفعلا جنگ دراستقامت سالنگ ادامه دارد وعنقریب افراد ائتلافي با سرهاي افگنده تونل سالنگ را به قصد جبل السراج وپنجشیر عبور خواهند کرد.

شکست مسعود وسیاف در ولایات لوگر وبغلان ،ضربهٔ محکمي بود برکیان ائتلاف،وشاید هم همین شکست آخرین لطمه اي باشد برموړال ضعیف افراد ائتلاف ومنبعد آنها در هیچ میداني پیش قدمي نخواهند داشت ودرهرجاییکه شعلهٔ جنگ مشتعل شود ،غیر ازگریز وشکست،آنها دستاورد دیگري نخواهند داشت . معلومات دقیقي که نیروهاي حزب اسلامي ازماشین نظامي ائتلاف بدست آورده بودند ، سران ائتلاف درنظرداشتند تاازجانب بالاحصارازشمال وازجانب لوگراز جنوب دست به تحرکات نظامي زده وچهارآسیاب رازیرفشاربگیرند چنانچه پروازهاي اکتشافي ولوژیستیکي طیاراتش در ساحهٔ ولایت لوگر این پلان را افشاساخت وبه مجردیکه آنها دربالاحصارولوگر دست بچنین عملي زدند ،نیروهاي حزب اسلامي با یك عمل تدافعي نقشه هاي آنها رادر بالاحصار ولوگر خنثي نموده وبخاطر امحاي چنین حمله اي درآینده ولایت لوگر را مانند ولایت وردك ازوجود آنها کاملاً تصفیه کردند.

درماه حوت سال گذشته نیروهاي ادارهٔ ائتلافي ازطریق تطمیع وخریداري یکعده افراد ضعیف النفس ،ازتونل سالنگ عبور نموده وسنگرهاي حزب اسلامي را درخنجان ،دوشي ولرخاب تسخیرنموده وبعد ها تمام قوا کوشش نمودندتاپا تسخیرپلخمري وبغلان راه خو درا براي شبرخان بندربازنمایند ، مگرنیروهاي شوراي همآهنگي دردفاع ازبغلان و پلخمري داد مردانگي داده وچندین حملهٔ وحشیانهٔ آنها را دراستقامت هاي پلخمري، کیلگي ، کرکر،حسن تال، شهر کهنه وگرداب بغلان به عقب زدندودشمن تلفات زیاد جاني ومالي فرار نمود ،بعدازآنکه موړال افراد دشمن ضعیف شد، نیرو هاي شوراي هماهنگي براي بازپس گرفتن مواضع ازدست رفته خود، وارد پیکارشدند ودرظرف یکماه اخیر به استقامت جنوب قوت هاي دشمن راازدوشي تاسالنگ ودراستقامت شمال ازشهرکهنه تا علي آباد و دراستقامت شرق تا نهرین به عقب زدند ، درنتیجهٔ این عملیات هاي متهورانه راه فرعي اداره ائتلافي که ازخنجان -اندراب -نهرین برشیرخان بندروصل مي شد سقوط کرد وکابل باردیگر از چهار سمت درمحاصرهٔ نیروهاي شوراي همآهنگي قرار گرفت و ائتلاف غیراز هوا راه زمیني براي اکمال در اختیارندارد که آن طریق هم به نسبت حساس شدن کشورهاي همسایه حلال مشکل اداره ائتلافي نخواهد بود.

هکذا دربعد سیاسي نیز ماهیت موقف کجدار ومریز سران ادارهٔ ائتلافي که

ص (۸)

سخن روز

دکابل د ائتلافي اداري ترنظارت لاندي دلويي جرګي دائرول قانوني جواز نلري .

عبدالشافي

تېره ورځ مولوي صاحب محمد نبي محمدي له ټولوګوندونوڅخه وغوښتل چي خپل نمايندګان دي دلويي جرګي كميسيون ته معرفي كړي .مولوي صاحب محمدي چي دائتلافي اداري له خوادلويي جرګي دكميسيون رئيس ټاكل شويدي ددي حق نلري چي خپل ځان دبيطرفو تنظيمونو په مشرانو كي محسوب كړي ځكه چي هغه ديوغيرقانوني اداري سرپرستي منلي اودهرات دغونډي سره يي خپل ملاتړ اعلان كړيدي حال داچي دهرات غونډه هم يوه غير قانوني اويوه‌ګوندېزه غونډه وه پدي كي دافغانستان ټولو ګوندونو شركت نه وكړي پخپله محمدي صاحب هم د نه ګډون اعلان كړي ؤليكن داچي نن محمدي صاحب دبيطرفي په نوم دائتلافي اداري غيرقانوني غونډه منلي اودلويي جرګي دكميسيون رياست يي پرغاړه اخستي دمحمدي صاحب بي طرفي يي ختمه كړي هغه اوس ددي حق نلري چي خپل ځان بيطرفه وبولي اوپدي نوم دكميسيون مشري په غاړه واخلي هغه اوس په حقيقت كي دائتلافي اداري جزء ګرځېدلي . دملي محاذ مشر پير صاحب سيد احمد ګيلاني چي تردي دمخه محمدي صاحب سره يو ځاي دبيطرفو ګوندونو په صفت دلويي جرګي ددائرولو اودرباني دائتلافي اداري داستعفئ وركولواويوبيطرفه موقت حكومت دتشكيل له پاره كارپيل كړي ؤ،دمحمدي صاحب له دغه كاربيزاري ښكاره كړي اوويلي دي چي دمحمدي صاحب دغه كار غير قانوني دي او هغه ددي حق نلري چي خپل ځان ته معاونين وټاكي.

دحيرانتيا خبره داده چي محمدي صاحب ددي پر ځاي چي دلانجي اصل بنيادونه حل كړي او ديو غيرقانوني اداري پرځاي قانوني حكومت دتشكيل له پاره خپل هلي ځلي وقف كړي بالعكس استحكام اوجواز لاري يي لټوي حال داچي داختلاف اودجنګونو اصل بنيادد‌رباني غيرقانوني حكومت دي ،ترڅو پوري چي دغه ناروا اوغيرقانوني حكومت موجود وي نه سوله راتلي شي او نه دهغه تر اشراف لاندي كيدونكي غونډي كميسيونونه اوهلي ځلي څه نتيجي وركوي ځكه چي ديوغير قانوني لونارواحكومت هغه كارونه اوهلي ځلي چي دخپل حكومت دټينګښت له پاره سرته رسيږي

هيچا ته دمنلو وړ نه دي .مولوي صاحب محمد نبي محمدي ته پكار خوداؤ چي درباني غيرقانوني حكومت په خلاف خپل ايماني اواسلامي مسؤليت اداكړي وايي اودهغه دلري كولو په خاطر يي خپل ټول استعداد خرج كړي وايي ځكه چي داسلام مقدس دين ددي اجازه نه وركوي چي دمسلمانانو له رضا اوخوښي نه پرته دمسلط شوي شخص حكومت ومنلي شي .

په اسلام كي هغه حكومت قانوني بلل كيږي چي دمسلمانانو په خوښه جوړشوي وي اوپه زوريي ځان ته وي تحميل كړي نو له بده مرغه محمدي صاحب ديو غير قانوني اوغير شرعي حكومت داستحكام له پاره خپلي هلي ځلي پيل كړيدي چي نتيجه يي دملت له تباهي اوداسلام له ښكاره اصولو څخه انحراف نه پرته بل څه په نظر نه راځي.

مولوي صاحب محمدي ته پدي پوهيدل په كاردي چي ترڅوظلم خاتمه ونشي اوناحق پر ځاي حق حاكم نه كراي شي نه سوله راتلي شي اونه په مستقله توګه دحق بيرغ اوچتيداي شي . درباني حكومت په موجوديت كي داڅه اوتوقع كول چي ګني مسايل اوشكلات به حل شي لويه سهوه ده ځكه چي د ناروا له لاري روا كارونه كله هم نشي كيداي ترڅوچي په لمړي سركي ناروا ختمه نشي دروا تصوورنشي كيداي لكه څرنګه چي وينه په وينه نه پاكيږي همداراز دناروا له لاري رواكار نشي كيداي اوله ناروا نه خامخا نارواګاني زيږيږي كه محمدي صاحب په رښتياني توګه دافغانستان دموجوده لانجي دختمولو ايماني او وجداني احساس كړي وي اودزړه له كومي غواړي چي تل له پاره دظلم خاتمه وشي نو بيا ورته پكاردي چي دلانجي اوجګړي اصل بنيادونه او ريښي وپيژني اودهغو له منځه وړلو له پاره اقدام وكړي حقيقت دادي چي درباني ائتلافي اداره دجګړي اصل عامل دي هغه په غير قانوني توګه مسلط شوي اوغواړي چي اوږدي مودي له پاره دغيرقانوني له لاري په اقتداركي پاتي شي . دهمدي مقصد له پاره دهرات غونډه راوبلله ترڅو پدي لاري خپل غيرقانوني حكومت ته مشروعيت وبخښي حال داچي درباني غير قانوني حكومت دداسي كولو حق نلري ،كه په داسي كولوڅوك ددولت سرپراه جوړيداي شي نو بيا دافغانستان ټول مشران كولاي شي چي دهرات تر غونډي لوي غونډي راوبلي اوخپل ځان جمهوررئيس وټاكي اوبيدي ترتيب هريوڅانته قانوني جمهوررئيس ووايي ،ددي له پاره چي ټول غيرقانوني لاري وتړلي شي اوهيڅوك دفريب تزويراو رشوتونو له لاري اقتدار ته ونه رسيږي نو پكاردي چي له اولي ورځي نه ديو جائز اوقانوني حكومت دتشكيل له پاره كار وكړاي شي هغه داسي چي رباني بايد له څه ځنډ نه پرته اقتدار پريږدي ،په ټول افغانستان كي جګړه بنده شي يوګډ كميسيون دي جوړكړي شي بيا دي واك همدي كميسيون ته وسپارل شي ترڅوموږي كميسيون داسي يوموقت حكومت جوړ كړي چي ټولو ته دمنا... پدي موقت حكومت كي بايد مشران عضويت ونلري اوترانتخاباتو پوري دي انتظاروباسي اودموقت حكومت غړي په انتخاباتوكي شركت ونه كړي دغه پورتني پيشنهاد . په صحيح معنا دافغانستان موجود مشكل حل كولي شي اوهيڅ يوګوند او مشرنشي كولي چي دناروا اوغيرقانوني لاري خپل ځان اقتدارته ورسوي اويا بيت المال دخپلو ذاتي اغراضو په خاطر استعمال كړي ، ښكاره خبره ده چي ديوداسي موقت حكومت ترنظارت لاندي دانتخاباتو انعقاد به له هر ډول ټګي اودرغلي نه پاكه وي اوپرېر بل به بي اعتمادي نه وي.

دا يو داسي عادلانه طرح ده چي دافغانستان ټولو ګوندونو ته يو ډول ګټور ده اوهيڅ څوك تريته ناروا ګټه نشي پورته كولي .ليكن درباني دائتلافي اداري دااسرارچي دهغه تراشراف لاندي دي لويه جرګه جوړه كړاي شي اودسولي هيئتونه دي دهرات دغونډي ملاتړ وكړي ښكاره ددي ثبوت وړاندي كوي چي درباني ائتلافي اداره په زړه كي خبرلا لري هغه غواړي چي دخپل حكومت تراشراف اونظارت لاندي داسي جرګه راوغواړي چي دخپلي ګټي له پاره استعمال كړي كه په رښتياني توګه درباني ائتلافي اداره همدامقصد نلري اوددولت وسايل اوبيت المال دخپلي ذاتي ګټي له پاره استعمالول نه غواړي نوبيا قدرت ديو ګډ كميسيون ته له سپارلو نه ولي ډډه كوي ولي ديوسرتاسري عمومي انتخابات له پاره غاړه نه ږدي چي دموقت حكومت له خواسرته رسيږي .حقيقت دادي چي كه نن هم رباني اوائتلافي ملګري يي اصل حقيقت ته غاړه كيږدي ، خپل غيرقانوني حكومت نه لاس واخلي اواقتدار ګډ كميسيون ته حواله كړي نو بيا دجنګ جګړي دغه موجوده عوامل ټول ختميږي اوافغانستان يو ځلي بيادسولي اوامن په‌ځانګو پهلليږي ترڅكه مولوي صاحب محمدي ته پكاردي چي دافغانستان دمسلمان ولس ګټي اودمستقل امن په‌خاطر دپورتني معقولي طرحي دعملي كولو په خاطر خپلي هلي ځلي مركوزكړي ترڅويوطرف ته خپل ايماني مسؤليت يي اداشي اوبل طرف ته افغانستان ملت ته يو قانوني اواسلامي حكومت په نصيب شي.

داسلام پرخلاف دغرب لومړني مستقيمه حمله

دښكلي اصلاحاتوترپردي لاندي دبي واكي جنسي آزادي پلان

[illegible]

تېره اونۍ په قاهره كي دنفوسوكنترول اوپرمختګ تر نامه لاندي دملګروملتونو داداري لخوا يوه غونډه جوړه شوي وه

ددي غونډي داجندا او پريكړو په هكله څه په زړه پوري مطالب په بين المللي مطبوعاتوكي په نشرورسيدلي چي مونږيي د يوه ترجمه اولنډيز دشهادت دلوستونكو دمعلوماتوپه خاطر دلته په نشر سپارو.

#

په نړي كي دجنسي سيلاب دخپرولو، دجنسي شهوتي اوروزني عامول ، دحمل پاكوچني دضايع كولو له پاره اسانه طريقي اوهغوته دجواز وركولو لاري اودهم جنس پالني په لوره ترغيب اوتشويق پروګرامونو دقانوني بڼي وركولو په خاطر په قاهره كي يو بين المللي سيمنار جوړښت وموند. داكانفرانس دمصر داسلامي هيواد په مركز قاهره كي د سپتمبر په اوايلو كي دملګروملتونو ترنظارت لاندي دپاكستاني نژاده ښځي ډاكترنفيسه صادق په مشري كي تشكيل شو.

كه څه هم دغه كانفرانس (په آبادي باندي كنترول اوپرمختګ) تر عنوان لاندي يي خودكانفرانس څخه د مخه ملګروملتونو دنړي ګردو هيوادو ته دكانفرانس داجندا په توګه د ١١٣ ورقو يوه اجندا وراستولي وه چي په هغي كي ترقي (داقتصاد خپرول) اود (بنسټيزو انساني حقوقوساتني) په څير په زړه پوري اصطلاحات استعمال شوي وو خود يو آزاد مبصر په وينا چي دادغرب دنوي نړيوال حكم يانيوورلډ اردر په واسطه ددريمي نړي اوپه ځانګړي توګه په اسلامي نړي كي دجنسي سيلاب دخپرولو اودجنسي انقلاب دراوستلو له پاره يوپروګرام دي چي غرب يي دخپلو نړيوالي شميره پلانونو دتطبيق په څير دملګروملتونو داداري په واسطه عملي كول غواړي.

بين المللي اسلامي تنظيمونو ،برهانو، دتعليم اوتربيي متخصصينو اوعلماوو دقاهري دكانفرانس ددغي اجنډا ډيرسخت مخالفت وكړ اوداسلامي نړي ترټولو ستريوهنتون (الازهر) رابطه عالم اسلامي دځواناتو اسلامي تنظيمونو ، اخوان المسلمين ،ټولودقاهري دكانفرانس په واسطه دملګروملتونو وړاندي شوي پروګرام په اسلامي ټولنو دغرب دجنسي حقوقو دقانون

Bill of Sexual right د

مسلط كولو هڅه وګڼله .

#

غربي پوهان ، اوسياسي مشران دډيره وخته راهيسي په نړي كي دغرب دعلاويت په مقابل دمسلمانانو دنفوس دشميري دزياتوالي يوچلينج بولي اوددي چلنج څخه دمخنيوي په خاطر هغوي دملګروملتونو ددغه ډول پروګرامونو دعملي كولو له پاره لاس پښي وهي .

كه د كانفرانس له پاره نشركړل شوي اجنډا په دقت سره وكتل شي او دابادي دكنترول اوپرمختګ ته دزړه پوري عنوان لاندي دهغوي پلانونه مطالعه كړل شي نو په ډاګه به شي چي دمسلمانانو داعتراض كولو نوعيت اوجواز په مكمله توګه پرځاي اوحقيقت دي .

١ - دجنسي شهوتي اوروزني خپرول :

دكانفرانس له مخي دملګروملتونو دټولو غړوهيوادو مسئوليت دادي چي هغوي به دجنسي تعليم اوتربيي د خپرولو او عاملولو په مخ كي ټول قانوني ، ټولنيز اوكلتوري خنډونه له منځه وړي. په بين المللي ورورګلوي غږ شوي چي هغوي به دځواناتو (دځوانو اوهلكانو) حقوقوته پراختيا وركوي اودهغي ساتنه به كوي .

٢ - دواده پرته دجنسي اړيكو ترغيب اوتشويق :

> دسپين نسل‌دبرتري دساتلو په غرض دمسلمانانو د عددي شميري دكمښت اودله منځه وړلو په نوم دپاپوليشن د بم ترنامه لاندي هلي ځلي

هرڅوك لدي حقيقت څخه خبردي چي په غربي ښوونځيوكي جنسي تعليم دتعليمي نصاب يو ضروري برخه ده . په ځينو غربي ټولنو كي دانصاب دمتوسطي يامنځني تعليم څخه پيل كيږي خو په ځينو ټولنو كي هغه دهماغه لمړي صنف څخه شروع كيږي په دي اساس دجنسي تعليم دعام كولو څخه دملګروملتونو هدف هغه ټولني دي چي لاتراوسه هلته دغه ډول تعليم دنصاب شكل نه دي نيولي . ښكاره ده چي ددي څخه مقصد داسلامي هيوادو درس ځايونه اومسلمان زده كړي دي. كه څه هم غرب دخپل فرهنګ په خپرولو كي دكيسټو،فلمونو اوسندرو له لاري د (جنسي فرهنګ) تر عنوان لاندي شپه او ورځ مصروف دي خواوس هغوي همدغه كلچر (فرهنګ) په اسلامي ټولنو كي هماغسي لمړني بنسټيز) سطحي ته وړل غواړي چي دغربي جنس پالني دتهذاب ترمخه ورته هيڅ ډول خنډونه پيدانشي . اوكله چي دنن شاګرد دسبا په عملي نړي كښي قدم ږدي نو هغه به بيادهمدي تمدن اوتهذيب ښكيل وي . غرب نه يواځي دملګرو ملتونو له لاري دمعلمينو اواستاذانو په واسطه دجنسي تعليم دخپرولو هڅه كوي بلكه دغړو هيوادونو څخه ددي غوښتنه هم كوي چي هغوي بايد دابلاغ اوشهرت ټولي وسيلي په ځانګړي توګه له تلويزيون څخه كار واخلي . اودتفريح تر نامه لاندي پروګرامونو كي هم جنسي تعليم ته وده وركړي. له ټولو زياته خطرناكه غوښتنه يي داده چي دزده كوونكو له پاره د جنسي تعليم ترلاسه كول دهغوي دحق په څير وپيژندل شي اولكه څنګه چي دنوروانساني حقوقو ساتنه كيږي په همدي ترتيب دي ددي حقوقو ساتنه هم وشي.

ملګري ملتونه دهمدي كانفرانس په واسطه ټولو حكومتونو ته حكم كوي چي هغوي دي د (فرد او جوړي يا (Couples) له پاره دحمل دپيدايښت څخه دمنوعه ادوياتو تر لاسه كولو ، دكورني پلانونو په هغه مشورو ، اولارښوونو ترلاسه كول ديوه پيژندل شوي حق په څير ومني .

اوپه هغي كي دي ورته اسانتياوي برابري كړي. دا هم ويل شوي دي چي حكومتونه دي دځواناتو (ښځي اونر) دجنسي غوښتنو دتكميل په جهت كي مثبت اومسؤلانه قدمونه پورته كړي.

دياداولو وړ ده چي په دي حكم كي ددي خبري هيڅ ذكرنه دي شوي چي داكومك دي د واده شوو يا د واده په رشتوكي دراګيروجوړوسره وشي . ددي حكم څخه دابه داګه كيږي چي حكومتونه دي جنسي بي لاري اوجنسي ازادي لكه څنګه چي په غربي ټولنو كي موجوده دي زياته كړي ښځي اونر ته دي په مكمله توګه آزادي وربه برخه وي تر څو هغوي دخپلي خوښي په اساس دواده پرته . په آزاده توګه څنګه اوچيرته يي چي خوښه وي جنسي اړيكي پيداكړي په ټولنه كي دي وررڅخه دپوښتني كولو څوك نه وي. بلكه برعكس حكومت دي دهغوي همدغه تګ دبنسټيز حق په څيره ومني او (قانون) پوړني دي ورپه سركړي . هغوي ته دي دحمل دضايع كيدو سهولتونه اوادويات هم تهيه كړل شي اودجنسي ازاديو په لركي دي يي لارښود نه‌اوكومك وكړل شي ددي ترڅنګ دا هم ويل شوي دي چي دغه ډول ادويات بايد په هرځاي كي په كم قيمت سره ترلاسه شي . حكومتونو ته داډول لارښوونه هم شوي ده چي هغوي په دي لوري ته خاصه توجه كوي چي د ارزانه ،داعتماد وړاومحفوظ ادوياتو په تيارولو او ويشلوكي به هيڅ ډول سهل انګاري ونه كړي .

همدا راز ملګروملتونو د پر مخ تللو هيوادو څخه غوښتنه كړي چي هغوي دي مخ په ترقي هيوادو نور په دي ډول ادوياتو دجوړښت دتكنالوژي واړاو په دي هكله اقدام وكړي . داچي ملګري ملتونه په دي هكله څومره اخلاص لري دهغي اندازه ددي څخه په ډاګه كيږي چي هغوي غواړي په راتلونكي څوكالو كي په دي لاره كي ٣٤ بليونه ډالره خرڅ كړي . داوسني عيسوي پيړي دپاي ته رسيدو وروسته ممكن دا بودجه نوره هم زياته كړل شي . يواځي دادوياتوددي مصرف څخه داڅرګنديږي

(٦) مخ

درامهٔ قدرت سياسى افغانستان

عبدالرزاق "كابلهار"

به همه معلوم است كه جنګ هاي تحميلي كنوني افغانستان به اشارهٔ باداران خارجي اجيران ائتلاف برملت بيچاره ومظلوم ما به حال دلخراش وخيلي هامايوس كننده تحميل ګرديده است ، البته درګذشته ملت مومن افغانستان هرګز بخاطر حصول مقام وبرتري هاي سياسي به ګونه يي كه يك شخص درآن برنده شودنه جنګيده اند، بلكه يګانه آرمان ايشان ازتلاش ومجاهدت ها فقط وفقط حصول رضاي خداوند واعلاي كلمة الله درسرزمين خداوندي مانند افغانستان وساير بلاد اسلامي بوده است ، لهذا امروز به همين خاطراست كه هرآنكه دروجودش ذره يي ايمان به خداوند وجود دارد ، هرګز حاضرنيست كه دستش درخون ملت شجاع ومومن افغانستان غرض حصول قدرت وغلبهٔ انحصارطلبانهٔ ائتلافيون رنګين شود.

آن هاي كه امروز خلاف اصول وضوابط اسلامي وخلاف مصالح علياي كشوردست به اعمال ناخوش آيندي مي زنند وسعي مي ورزند تادامنهٔ جنګ هاي داخلي رادرسرتاسر كشورګسترش دهند. دراصل عاملين چنين جنګ هاومصيبت هامحل دايمي سكونت شانرا درآينده افغانستان انتخاب نكرده اند، لهذا به همين خاطر است كه ايشان به ويراني كشور وتباهي عامهٔ مردم كدام باكي ندارند. بلكه چنين اشخاص درصورت نايل نشدن به اهداف وخواهشات نفساني خويش كه همانا اشغال كرسي رياست جمهوري وساير ارګان هاي كليدي دولتي مي باشدبه زودترين فرصت ممكنه راهي ديارانتخاب شده وازقبل اعمارشده شان درخارج مانند استراليا، امريكا، انګلستان ، آلمان، فرانسه وسايركشورهاي غربي خواهند شد .

بادرنظرداشت نكات فوق بهتراست كه درمورد چګونګي شخصيت ها و رؤساي مجاهدين افغانستان كه درشرايط فعلي درصحنهٔ سياسي و بين المللي كشور مطرح ميباشند موارد لازم راتوضيح دهم:

١- برادرحكمتيار : برادرحكمتياريكي ازمشهورترين ومعتمدترين چهره هاي سياسي مجاهدين افغانستان محسوب مي شود، وي نسبت مهارت خاصي كه درامورات سياسي وبين المللي دارد دشمنان داخلي وخارجي كشورمارابه حيرت انداخته است ،چنانچه دراوائل سال ١٣٧١ كه مصادف به سقوط داكترنجيب دركابل مي باشد مخالفين سياسي آن درزمرهٔ مجاهدين وبعضي مجاهدنماها ازبيم محاكمه توسط وي دست به ائتلاف نامقدس زده كه تاهنوزهم سلسلهٔ آن ادامه دارد وبه اساس آن مردمان بي غرض ومظلوم كشورماهمه وقته درشعله هاي آتش آن مي سوزند. ولي باوصف آن دورنخواهد بودكه مردم رنج ديدهٔ افغانستان به زودي ممكنه وبه نصرت خداوند ازشراين مظالم وبدبختي ها رهايي يابند، چنانچه كه درګذشته هاازمسايل خطير مليت ګرايي وتجزيه ګرايي به نصرت خداوند ودرنتيجهٔ تلاش هاي مدبرانهٔ برادرحكمتياررهايي يافته اند .

٢- استادسياف : استاد سياف بعدازآنكه درسال ١٣٦٠ رئيس اتحاداسلامي مجاهدين افغانستان بود، بالاخره به اساس مهارت شخصي خودوبه همكاري مستقيم عربستان سعودي اساس تنظيم جداګانه رابنام اتحاد اسلامي ګذاشت ، كه البته درآن زمان مجموع افراد تنظيم وي را همانا افراد ساير تنظيم هاي جهادي كه قبلاً درمحوراتحاد اسلامي مجاهدين افغانستان جمع شده بودند احتوامينمود، كه يقيناً وي رضايت خاطرهمه شانرا توسط موتروپول نقد حاصل كرده بود اماشخصيت هاي مربوط ازهيچګونه صلاحيت كليدي درچوكات آن تنظيم بهرمند نبودندزيراكه صلاحيت هاي كليدي همه بدوش شخص وي وافراد وابسته به فاميل وي قرارداشت ،كه ازجمله سيدغريب،سيدعمر، حاجي محمدرسول، حاجي دوست محمد .... راطورنمونه ميتوان يادآورشد .

به همه معلوم است كه استادسياف ظاهراً ازائتلاف باكمونست ها نفرت داشت وهميشه درسختراني هاي اش ميګفت كه اوهرګز حاضربه ائتلاف باكمونست هانمي باشد ولي آخرالامرديده شدكه فقط خوداستادسياف بودكه احمدشاه مسعود رادرراه ائتلاف باكمونست هاهمراهي كرد، چنانچه تاهنوز هم سلسلهٔ آن ادامه دارد، لهذا درشرايط فعلي سرنوشت سياسي ونظامي استاد سياف بستګي به سرنوشت سياسي ونظامي احمدشاه مسعود دارد كه به همين خاطر درآينده ديده خواهدشد كه آخرالامر نتيجهٔ اين قضايا ودرامهٔ سياسي چه خواهد بود ؟

استاد سياف بعدازحادثات اخير كه خود درووقوع آن نقش كليدي داشت سعي ورزيد تادرجنګ هاي داخلي مستقيماً درګيرنشود، بلكه ازدور ناظرصحنهٔ هاي سياسي ونظامي كشورباشد تابدين ترتيب دوانګيزهٔ خاص وسياسي وي برآورده شود:

الف : هردوطرف درګيركه هواداران احمدشاه مسعودو هوا داران برادر حكمتيار مي باشد خودبه خود ضعيف وسركوب ګردندوبه اين ترتيب تنظيم اتحاد درآينده منحيث يك تنظيم نيرومند كشورمطرح باشد .

ص(٧)

آيا اوس هم مولوى صاحب بى طرفه دى ؟

عبيدالله "ايمل"

ورمه ورځ دحركت انقلاب اسلامي مشر مولوي محمدي په يوه مطبوعاتي مركه كي داخبره كړيده چي ګواكي دبي طرفو تنظيمونو دا كوشش دي چي يو بي طرفه كميسيون جوړ او دهغه له خوا لويه جرګه تشكيل شي ، هغه ويلي چي په دغه كميسيون كي به د دولت (ا) اوهماهنګي شوري جهادي اشخاص غړيتوب لري اومرستيالان به يي هم يوددولت (ا) اوبل دهماهنګي شوري څخه ټاكل كيږي ،پداسي حال كي چي دكميسيون مشر به دبي طرفوتنظيمونو څخه وي .

له بل لوري دجمعيت منشي (عماد) هم په همدي ورځ په يوه مركه كي داخبره كړي چي زه دمولوي محمدي له خوا دنماينده په حيث پيښورته راغلي يم ترڅودلويي جرګي په جوړولوكي له ځينو مشرانو سره خبري وكړم. هغه داخبره هم كړيده چي كله د مولوي صاحب محمدي په مشري دبي طرفه تنظيمونو (حركت انقلاب ، محاذ ملي اوحركت اسلامي) هيئات كابل ته راغي اورباني اوسياف ته يي وويل چي هماهنګي شوري موږ ته واك راكړي اوغوښتنه يي وكړه چي تاسي هم بايد واك راكړي ،نورباني اوسياف هغه ته وويل چي مونږواك دركوو خوپدي شرط چي دهرات دغونډي اصول به په نظركي نيسي اوهمداته به دكميسيون مشري ،ځكه يي مولوي صاحب دلويي جرګي دكميسيون مشر وټاكه اوهغه هم دامسؤليت قبول كړ.

اوس به راشو ،ويه ګورو چي دمولوي محمدي اوعماد دمركو په رڼاكي آيامولوي صاحب "محمدي" ماموريت بي طرفانه كيداي شي ؟ واقعي خبره داده چي اوس دمولوي صاحب بي طرفي تقريباً په كلي صورت له شك سره مخامخ شويده هغه كه اوس دهركميسيون مشرشي نوملت اودائتلافي اداري مقابل لوري پري اعتماد نشي كولاي ، ددي دلايل هم واضح اوروښانه دي.

- لومړي داچي مولوي صاحب په اصطلاح دبي طرفو تنظيمونو دهيئات په مشري دائتلافي اداري دمشرربانې اودهغه دنژدي ملګري سياف سره دخبرو لپاره كابل ته لاړترڅو هغوي دېته رامات كړي چي ددوي فارموله ومني اودهرات دغونډي دپريكړو څخه چي يوه تنظيم له خوا شوي وي تيراودېوبل بي طرفه كميسيون په جوړيدو كي موافقه وكړي خو برخلاف كله چي مولوي صاحب كابل ته ورسيږي له سياف اورباني سره دكميسيون په جوړيدوخبري كوي جوخت ورسره دجبل السراج راديو نوموړي دهغه كميسيون دمشر په حيث اعلانوي چي دهرات دغونډي د پريكړو په اساس جوړ شوي

په مقابل كي نه يوازي مولوي صاحب عكس العمل نه ښيي .

بلكي خپله په كابل كي پاتي كيږي (ان تردي چي دامسئله يي هم له ياده وځي چي دكابل هواد دده له وجود سره موافقه ده اوكه نه)دالومړي ټكي دي چي دمولوي صاحب بي طرفي له سوال سره مخامخ كوي.

٢ - دويم داچي نه يوازي مولوي صاحب عملاًدهرات دغونډي په اساس په كار پيل كوي بلكي دجمعيت منشي اودرباني وزير دخپل نماينده په حيث پيښورته ليږي ترڅو په نوروسربيره په اصطلاح دبي طرفو تنظيمونو له مشرانو پيرسيد احمد ګيلاني اوآصف محسني سره دكميسيون دجوړيدو په اړوند دنظرتبادله وكړي ،دلته داپوښتنه پيداكيږي چي څنګه كيداي شي په اصطلاح يو بي طرفه مشر په يو طرف پوري تړلي شخص خپلو انديوالو بي طرفانوته دخبرو لپاره دنماينده په حيث راليږي.

٣ - دريم ټكي چي دياداولو وړدي هغه داچي ،له دي وروسته چي ... صاحب كابل ته تشريف وړي اودهرات دغونډي دطرحي په اساس دجوړيدونكي كميسيون مشر اعلانيږي ،نو دحركت انقلاب مربوطه كسان چي پخوايي په ائتلافي اداره كي كاركاوه خودمحبيني وجوهاتو له امله اوپدي خاطرچي ائتلافي اداره ورته غيرقانوني ښكاريده له كارسره دلچسپي نه اخسته اوس هغوي هم فعال شوي اودجبل السراج راديو يي دوزيراومعين په حيث اعلانوي پداسي حال كي چي څوموده يي داالقاب له لاسه وركړي وو له دي څخه څرګنديږي چي مولوي صاحب به هغوي ته داحكم كړي دي چي له ائتلافي اداري سره همكاري وكړي.

دا اودي ته ورته نورشيان هم شته چي دمولوي صاحب دبي طرفي په هكله پوښتني راولاړوي اوهيڅوك نشي كولاي چي نور په هغه اعتماد وكړي فلهذا هغه كميسيون چي اوس يي مولوي صاحب مشردي هيڅا ته هم دمنلو وړ نه دي ځكه ديو جانبه پريكړو په اساس ديو يادوو تنظيمونو له اشخاصو څخه جوړشوي دي.

نورڅو په ځاي پريږده اوس پير صاحب او ايت الله محسني هم حيران دي چي ملګري يي دسياف - رباني

(٧)مخ

فدراسيون مسلمانان كوريا

مترجم : عبدالهادي

درسال ۱۹۵۵ ميلادي زمانيكه كوريا درگيرجنگ بود، ارتش تركيه درين شبه جزيره مستقربود. عبدالرحمن وزيبركوجي امامان ارتش تركيه درين شبه جزيره به تبليغ دين اسلام براي مردم كوريا آغازكردندودر اكتوبر سال ۱۹۵۵ جامعه اسلامي (كوريا) تنظيم شد. دردسمبرسال ۱۹۶۷ فدراسيون مسلمانان كوريا كه دروزارت فرهنگ و اطلاعات كوريا به شماره ۱۱٤ثبت است، سازماندهي شد.

درسال ۱۹۷٤ حكومت كورياي جنوبي به وسعت پنجهزار مترمربع راجهت اعماريك باب مسجد جامع به مسلمانان واگذارنمود.

دربرج دسمبرسال ۱۹۸۲ كميته اعمارپوهنتون اسلامي باتعاون عربستان سعودي وكورياتاسيس گرديداما اين پوهنتون تاهنوزاعمارنگرديده است. دولت كورياي جنوبي باكمك برخي كشورهاي اسلامي تعهدنمود تامشتركاً كالج اسلامي را دركوريا تاسيس نمايند. همچنان بانك اسلامي توسعه وعربستان سعودي موافقه نموده اند كه اولي مبلغ ۸۰۰ هزاردالر ودومي مبلغ ٤٥۰ هزار دالرجهت تاسيس انستيتوت تعليمات اسلامي دركوريابپرداخت نمايند باتاسيس اين انستيتوت و آشنايي جوانان باعلوم اسلامي، زمينه تبليغ بيشترو گسترده تردين اسلام دركوريا فراهم ميگردد. هم اكنون ٤۷ محصل كوريايي در پوهنتون هاي اسلامي درخارج ازكوريا مصروف فراگيري علوم اسلامي اندكشورهاي اندونيز عربستان سعودي، ماليزيا، مراكش، پاكستان، ليبيا، تركيه، اردن، قطر، مصر زمينه تحصيل براي جوانان مسلمان كوريا را درمراكز علمي خودفراهم نموده وبرخي از جوانان مسلمان كوريا درپوهنتون هاي كشورهاي يادشده مصروف تحصيل علوم اسلامي اند.

كوريا پيروان ۲۲۵ گونه مذهب را درخود جاي داده است. اكثريت مردم كوريا پيرومذهب پروتستان بوده پيروان مذهب بودايي دردرجه دوم قراردارند. شمارپيروان دين اسلام باكاتوليكهاي مسيحي وپيروان كنفوسيوس مساوي است. وبقيه مذاهب دراقليت قراردارند. گرچه مسلمانان نسبت به پيروان مذاهب ديگر از امكانات ووسايل كافي براي نشر وتبليغ افكار شان برخوردارنيستند، اماباوجود مشكلات موجود، اسلام بيشتروسريعتر رشد وگسترش مي يابد.

ميزان افراد باسواد درين كشور ۹۸ درصدبوده كه ازجمله ۸۰ درصدآنها تحصيلات عالي دارند. اين امر موجب شده تا دين اسلام كه برحقايق

مسجد جامع سيول

استواراست بيشتررشد نمايد. علاوه برآن آداب ورسوم مردم باستان اسلامي شباهت داشته ودربرخي موارد موافقت دارد. اكثريت مردم كوريا به يگانگي خدا(ج) معتقداند. به روايت تاريخ مردم كوريابا هيچ كشوراسلامي درگذشته وحال خصومت نداشته وندارند وتمدن كوريا نيز ريشه شرقي دارد فدراسيون مسلمانان كوريا بطور منظم وقانوني فعاليت داشته كه در راس آن يكنفر سكرترجنرال (منشي عمومي) قراردارد.

اين فدراسيون به سه بخش اداري دسته بندي شده است بخش اول شامل هيئت مديره، مديرعمومي وكميته سرپرستي ازمراكز اسلامي است بخش دوم آن شامل امام، كميته امور شريعت، كميته دعوت وتبليغ، وسرپرست مساجد ميشود. بخش سوم آن انستيتوت تعليم زبان عربي، كميته طبع ونشر، كتابخانه اسلامي وقصابي اسلامي است كه زيرنظر سرمنشي كارميكند. علاوه برآن سازمان هاي فرعي ديگر بنام هاي سازمان مسلمانان كهن سال، سازمان هاي جوانان مسلمان، سازمان محصلين وسازمان زنان مسلمان نيز درتركيب فدراسيون مسلمانان كوريا فعاليت دارد.

شمارمساجد نسبت به تعداد مسلمانان در كوريا خيلي كم بوده اميدميرود بامساعدت كشورهاي مسلمان اين نقيصه مرفوع گردد. درين كشورجمعاً نه مسجد وجوددارد كه درسالهاي اخير اعمارگرديده است.

درسيول پايتخت اينشكور حدود بيست وپنج هزار نفر مسلمان زندگي ميكنند كه يك باب مسجد جامع دارند اين مسجد درساحه اي به وسعت ۱۵۰۰ متر مربع اعمارگرديده و نخستين محل فعاليت «فدراسيون مسلمانان كوريا» بحساب ميآيد. كارتعميرآن در برج مي سال ۱۹۷۶ همزمان بابرگزاري سيمينار بين المللي زيرعنوان فعاليت هاي تبليغي اسلامي دركشور هاي داراي اقليت مسلمان پايان يافت.

مسجد «الفتح» بوسان باهزينه ٤۰۰۰ هزاردالر به كمك كشور ليبيا به منظورتقويه روحي ورشد علمي مسلمانان كوريا درسال ۱۹۸۰ اعمارگرديد. مسجد توانگ جو با پرداخت ۱۲۰ هزاردالر ازطرف اداره امورمذهبي كويت در برج مي سال ۱۹۸۱ براي اداي نماز آماده شد.

مسجد حضرت ابوبكرصديق (رض) درمنطقه چون جوموقعيت داشته دربرج اپريل سال ۱۹۸۶ باكمك مالي (۲۳۰) هزاردالري تاجران مصري تهداب گذاري شدودرماه نومبر براي اداي نماز آماده شد.

فدراسيون مسلمانان كوريا سرپرستي مساجد رابدوش داشته و مراكز فعاليت آنها بحساب مي آيد.

اين فدراسيون دربخش هاي فرهنگي كارهاي ارزنده انجام داده است كه ازجمله ميتوان به طبع ونشركتب ترجمه وتفاسير قرآنكريم به زبان كوريايي، تعليم علوم اسلامي، تعليم لسان عربي، نشر مجله اسلامي، برگزاري نمايشگاهاي فرهنگ وهنراسلامي، افتتاح صنوف تدريس علوم اسلامي ازجمله قرآن، تفسيروحديث، اعزام محصلين به كشور هاي اسلامي، تدوير كنفرانس ساليانه جوانان مسلمان، تدوير كورس هاي تعليمي مخصوص امامان وغيره اشاره كرد.

خپل دښمنان وپيژنئ

صهيونيزم

دوهمه برخه

ژباړن : نجيب الله محمد پور

* وايي باید دټولو قوتونو ترمینځ دنفاق اوجگړي لمبي بلي وي ترڅو يوله بل سره بسياوي دا اوروته بايد ددولتونو ترمينځ هم بل شي بلكه بايد په هردولت كي دغه اورونه په خپلو شغلو ولسونه په ايروبدل كړي اومنصب اوقدرت ته رسيدل بايد پاك اومقدس هدف معرفي شي تر څو هرڅوك جگړي ته زړه ښه كړي پدي صورت كي به حكومتونه يو په بل پسي ټېبري ولسونه به كمزوري كيږي اوزموږ دنړيوال يهودي حكومت دجوړيدو لپاره به لاره هواره شي.

* وايي : دنادارو اوفقيرو ملكونو لپاره بايد دهغوي په جامعه كي څه خلك ددوي دخلاصونكو اونجات وركوونكو په نامه ورواندي كړواوهغوي بايد په خپلو ليكو كي تنظيم كړو زموږ سپاهيان (كمونستان، سوسياليستان، ماسونيستان ...) دي، له دوي سره د لوږي اوفقر په مرسته ډيري نوري پرگني ملگري كولاي شو اوبيا ټول دخپلواهدافو لپاره اودخپلودښمنانو دتكولو لپاره په كارراوستلاي شو.

* وايي : بايد اقتصادي بحرانونه رامينځته كړو، ترڅوټول خلك دهغوسروزرو په بركت زموږ مريونه اوتابع شي كوم چي موږ له پخوا نه ذخيره اواحتكار كړيدي.

* وايي : دحريت اوبي بندوباري تكي ولسونه دالهي ستنويه خلاف كشمكشونو ته هڅوي نو بايد موږ همدغه اويادي ته ورته تكي استعمال كړو ترڅوخلك وريانډي مشغول شي اودقدرت واگي زموږ په گوتوكي لاټينگي شي.

* وايي : زموږ سره داسي پټ قوت شته اوفعلاً په خپل ځاي كي فعال دي چي هيڅوك يي له مينځه نشي وړلاي، په پټه خوله به ډير توان سره خپل ورسپارل شوي دندي سرته رسوي، غږي يي وخت په وخت پدليږي را بدليږي اودنړي دمشرانو اوحاكمانو بدلول رابدلول زموږ په خوښه ددوي په واسطه عملي كيږي.

* وايي : بايد دخلكو له زړو نو څخه دايمان دولت راټسكوركړو، له عقل اوشعور څخه يي دالله وحدانيت اووجود ورليري كړو اوپه عوض يي مادي او سپورتي محبتونه ځاي پرځاي كړو، ځكه چي دايمان پذريعه قومونه عزت من وي اوبايد "ايمان" ذليل وي ددي لپاره چي دخپل ځان سره حساب او مراجعه ونكړي بايد هغوي تل په

تورو شيانو مشغول وساتل شي تو پدي دول كولاي شو چي دوي دنړيوالي مسابقي څخه غافل او بي خبره وساتو.

* وايي : په ټول توان بايد زيار وايستل شي ترڅو د"اميانو" مالونه ددوي له خزانو څخه زموږ بانكونو ته رانقل اوولېږدول شي.

* وايي : بايد داسي ټولني اوسازمانونه جوړكړوچي داخلاقو او انسانيت څخه بالكل خلاص وي، زړونه اوشاعريي تركانو كلك وي، ددين اوسياست سره سرسخته دښمني

* وايي : د"اوچت حكومت اداره" بايد جوړه كړو چي ډيرخلك پكي گډون ولري دڅسكي گوټ گوټ ته يي بايد لږ خوره شي ارټول حاكمان يي بايد تابعداري وكړي.

* وايي : صنعت اوتجارت بايد زموږ په ولكه كي وي، خلك بايد په عياشي، فحاشي اسراف ... عادت كړو، مزدوري بايد لوړه شي، «پوروټو اخيستل آسانه شي خو سودونه بايد لوړشي پدي ډول په اميان زموږ مريو ته شي.

* وايي په رسمي محافلو كي بايد خپل مرامونه دځان سره پټ وساتو، دآزادي

ولري، ترټولو غوره اواوچته آرزويي دخپلومادي اوجنسي غرائزو اشباع اومرينت وي، دوي بيا هيڅ ډول مقاومت اوټينگښت نشي كولاي توزموږ دهيلو سره سم به له ذلت نه ډك ژوند دلاس كټيو په څير تيروي.

* وايي : دقوت اوزورټولي واگي بايد په خپلو لاسونوكي ونيسو، په ټولو دندو بايد زموږ حاكميت وي، سياسي چاري بايد زموږ دخلكو په لاسونو كي وي، پدي ډول كولاي شو خپل ټول مخالفين په هرډگركي وټكوو.

* وايي : دنفاق اواختلاف تخم مو په هرځاي كي شيندلي، اميان موبوله بله سره ليري كړي، ددوي ترمينځ مودقوميت اوملیت پالني اوربل كړي، ددوي لپاره موديني اولساني اوسمتي اختلافي اوبغرنج مسائل ښه په قوت سره مطرح كړي ... دالوبي موشل پيري كړي دي اوس هيڅ داسي قوت نشته چي زموږ په خلاف متې رابهوهي ... ځكه چي دملكونو دحاكمانو واگي اوقيضي زموږ په لاسونو كي دي.

* وايي : الله تعالي موږ ته دحكومت كولو غوره اومناسب شرايط برابركړي اوموږ ته يي ښه امتيازات اوځانگري خصوصيات راپه برخه كړيدي اواميان يي لدي امتيازاتوڅخه محروم كړيدي.

* وايي : پروپاگندونه بايد ډيركړو، ضد اونقيض شيان خپاره كړو دشهوت لمبي بايد پورته كړو.

لپاره چيغي ووهو اوډظلم په خلاف خلك راوپاروو.

* وايي : نشرات، اخبارونه، مجلي، راديو گاني، تلويزونونه ... ټول زموږ په اختياركي وي بايد دشايعاتو دخپراوي لپاره ورنه استفاده وشي ترڅوامیان دحقائقو څخه ليري وساتل شي اوپدي بايد مشغول شي، دخپلوګټو څخه بايد غافل وساتل شي اوبايد هغوي په خپلو شهواني غرائزو پسي سرگردانه وځغلوو.

* وايي : زياربابسو چي زموږ پلان دوخت نه ترمخ براالاتشي اوهمدارنگه د اميانو ځواكونه هم بايد دخپل وخت نه مخكي ونه ځپل شي.

* وايي : دكورني نظام به ختم كړو اودځان پالني روحيي ته به وده وركړو ترڅوهرڅوك طاغي اوياغي شي.

* وايي : حكومتونو ته بايد دټوري اوداغداري ماضي واله خلك وروسپزي هغه خلك چي څيره يي لاخلكوته نوي افشاشوي، دوي بيا زموږ اوامر په ښه ډول مني ځكه دخپل شرم نه ويريږي لكه ځنگه چي همدا اوس موږ دډيروناهلوخلكوڅخه تش په نامه ائتلاف جوړكړي

* وايي : له انقلابونو اوتونبتونو نه بايد په هر وخت كي استفاده وكړوخپله ځانگړي ډول چي كله زموږ گټي وساتي.

* وايي : موږ خپل پټ قوت جوړكري مگرداچارياي اميان يي په راز نه پوهيږي، نو هغوي بدخپله گټه اودخپل هدف لپاره استعمال اواستخدام كړي.

* وايي : دخداي دخويش كړي ولس (يهودو) ثبت اوپرك والي دخداي رحمت دي اوداكمزوري نده.

* وايي : بايد نورخلك په چكرونو، پاركونو، سينماگانو، كلبونو، په رقصونو، په اخلاقي فساد، مخدراتو (نشه بي شيانو)... مشغول كړو ترڅو په خپلو ويروكي ككړوي اوزموږ پلانونه ورنه پټ پاتي شي.

* وايي : دهرهغه چامقابله كړو چي زموږ داهدافو په لاره كي خنډونه راولاړوي.

* وايي : ماسوني محفلونه بايد زيات اوپراخه شي.

* وايي : كله چي دټولي نړي دقدرت واگي زموږ ولكي ته راشي په ټولو دينونو به بندبزولگوو، يوازي زموږ دين به په ټوله ځمكه حاكم وي ...

موږ هم دخپل الله څخه ددغه ظالمانو له شرڅخه نجات غواړو، اوډټولو متعهدو مسلمانانو نه غواړو چي داسلام دښمنانو په خلاف يوموټي اوپوه خوله شي اسلام برپالي دي اوراتلونكي زموږ ده.

ان شا الله. نوريا

يك قوماندان برجسته جبهه نجات ملی ...

مشكلات اجتماعي رابارآورده است. تعدادي ازمخالفان قطع جنگلات به ذرايع گوناگون يا به قتل رسيده ويا اختطاف شده اند.

روزنامه نيوز به نقل ازمنابع افغاني باشراين خبر مي افزايد: قوماندان عبدالرزاق زماني به شهادت رسيد كه حدود (۱۵) نفر مسلح برخانه وي هجوم بردند. وي (٤۰) سال داشت ومتعلق به يك فاميل برجسته نورستان بود.

شهيد عبدالرزاق برادر مرحوم وكيل عبدالباقي نماينده نورستان درپارلمان سابق بود، به نوشته اين روزنامه مخالفت قوماندان عبدالرزاق باقطع نمودن جنگلات نورستان موجب شهادت وي بدست افراد مسلح ناشناس گرديد.

وضع شهرهرات

عزيزان وبرادران مجاهد راعرض سلام تقديم ميكنم.

تعدادي از مسافريني كه ازهرات به ايران مي آيند شكايات وحكاياتي ازوضع شهرهرات دارندكه احساسات هراتسان وطن دوست رابرمي انگيزد.

عموماً مسافرين مريض بوده وجهت تداوي هاي عادي وجزئي به ايران مي آيند وشكايت دارندكه حفظ الصحي محيطي دراين ولايت درزيرصفرقراردارد.

تماماً جويچه هاوكناره هاي جاده هاي عمومي مملوازكثافات ميباشد، بوي بدوتعفن همه جاي هارا فراگرفته است حتي نان وآرد كه درنانوايي فروخته مي شود مملوازخاك وريگ ميباشد غذاهاي پاسي وبيرنياك درخوراكه فروشي هاوهوتلها فروخته مي شود.

وضع حمام هاي شهر وهمه جاهارا گندگي ومرض فراگرفته است حتي ماروگژدم وزنبور درمنازل مسكوني ودوكانها آنقدر شده استكه مردم خواب آرام ندارند بيشتراطفال ولايت هرات به مرض اسهال واستفراق دچارگرديده، تلف ميگردند وهيچ گونه مرجعي وجودندارد وياشخصيتي درهرات نمي باشد كه متوجه اين موضوعات گردد اكثراً در دفاتر دولتي مخصوصاً ولسوالي ها علاقه داري ها، مديريت ها كساني وظيفه‌دارند كه حتي سواد اوليه خواندن ونوشتن راندارند هيچ مقام ومنصبي هم وجودندارد كه اين ولايت رامتوجه بسازد زيرا ايشان همه كارة اين ولايت هستند وخودشان منصب رئيس جمهور هرات رادارندوبه جزامسايل جنگ متوجه اوضاع واحوال مردم شهرومردمان شريف آن نمي باشند.

گوشه يي ازچپاول دارايي ملت

قراريكه به هموطنان وجهانيان معلوم بوده چندي قبل درمنطقه ميرزكه خزانه مخفي زيرزمين ازطرف اهالي منطقه كه ازضعف دولت رباني استفاده كرده اخراج نموده بودندكه در اوائل چند قلم جنس قيمتي را به قيمت ناچيز بفروش رسانيده اند ودراين اواخربه اشاره مسعود آمرشوراي نظارتمام اجناس مربوط خزانه اخراج شده توسط حبيب الدين پنجشيري دوكاندارنماك مندوي، جانباز - عارف ومتازناملن دوكانداران داوُد ماركيت خريداري وبه پشاور انتقال نموده اند، مي خواهند اين دارايي ملت رابفروش برسانند.

ناگفته نماند كه قبلاً چهارنفرمذكور دوكانداران شينواري ماركيت بودند وبه خاطرانتقال سرمايه، ملت ازماركيت مذكورورانده شدند. اصل هدف ازنوشتن نامه اينست كه تمام هموطنان وجهانيان ازجريان چپاولگري وغارت سرمايه ملي توسط خائنان ملت آگاه باشند وازطرف ديگر درخريداري اموال مذكورجرأت نه نمايند. البته درصورت تخلف مسئوليت آينده راجوابده خواهندبود. خصوصاً از سازمان ملل تقاضا ميگردد تادرحصه تحفظ اموال مذكوروساير اموال غارت شده ملت بيچاره ازمساعي خود دريغ نه نمايند.

بااحترام

حاجي شاجهان مالك ماركيت شينواري

هشدارهندوي تبعهٔ افغانستان به حكومت هند

به اداره محترم جريده شهادت؛

اسلام عليكم ورحمة الله وبركاته؛

اولاً صحت، سلامتي وموفقيت تان رادرامور محوله از درگاه خداوند متعال (ج) خواسته وخواهانم وبعد.

نامه ارسالي من بنابرتقاضاي دونفر هندوسك تبعه افغانستان تحرير گرديده اميد واوم درنشر آن اقدام فرموده ممنون فرماييد. ميگويند كه ازگپ، گپ ميخيزد چنانچه ازگپ، گپ برخاست.

اينجانب بتاريخ ۳۱ ر۵ر۱۳۷۳ با دونفرهندو بنام هاي سرجن سنگ وبچن لعل مهمان مذكور كه شناخت قبلي با هم داشتيم در ولايت شهرجلال آباد صحبت نمودم هردو نفرچنين اظهارميشمودند. خانه مايان درهندوگذرشوربازار بود باروي كارآمدن حكومت رباني درافغانستان دارايي واموال مايان چوروو چپاول وبه تاراج برده شد وتجاوز بيرحمانه بالاي جان، شرف، حيثيت، ناموس ومقدسات مذهبي مايان صورت گرفته اكنون ويراني وتصرف منازل مسكوني ومهم ترازهمه تصرف بي احترامي وساختن سنگرها دردرمسال هاي هندو گذرشوربازار، باغبانكوچه، كارته پروان، تخته پل وكوچه علي رضا خان كه عبادت گاه هاي هندوهاوسك ها بوده توسط افراد اداره ائتلافي صورت ميگيرد. حمله نمودن كارگردانان اداره ائتلافي به درمسال هاي ما وتجاوز آنها به كتاب هاي مذهبي خلاف خواسته واحترام به كرامت انساني مردم هندو وسك تبعه افغانستان بوده كه سبب تشويش، نفرت و انزجار مايان گرديده است. باوجود اين همه بي احترامي هاي نابخشودني وا تلاف حقوق حقه اهل هنود وملت مظلوم، آواره ودربدرافغانستان، حكومت هند اين همه جنايات وخيانات كارگردانان اداره ائتلافي را ناديده گرفته به مذهب اهل هنود ومردم هندوي افغانستان خيانت وتمسخر نموده وخلاف خواسته مايان ازچنين اشخاص وافراد پشتيباني مينمايد. مثلاً سرازيرنمودن كمك هاي نظامي وبه كارگماشتن پيلوتان وتخنيكران درخدمت آنها وبم ريزي بالاي خانه هاومنازل مسكوني مردم وشهرهاوقريه جات مثال عمده آنرا بيان ميكند كه اين عمل بيشرمانه حكومت هند ازيك طرف باعث نفرت مسلمانان افغانستان وجهان بخصوص ازهندوهاي تبعه افغانستان گرديده ازجانب ديگر ملكيت هاي شخصي مايان كه عبارت اند از باغ، خانه، دكان وغيره ازدست مايان خواهد رفت. آنوقت جاي پا، درافغانستان نخواهيم داشت وهم چنان پاليسي حكومت هند خلاف منشورملل متحد بوده وميباشد.

بناءً حكومت هند دوهر صورت بخاطر جاي پا، داشتن دوباره اهل هنود تبعه افغانستان درحكومت آينده اين كشور به خانه وكاشانه شان ازهرنوع مداخلات بي رحمانه دست كشيده اضافه ازاين باعث قتل، كشتاروويراني درافغانستان عزيز نه گردد درغيرآن تداوم اين عمل عواقب ناگوار وخطرناكي رابراي هندوهاي سكونت پذير داخل افغانستان درقبال خواهد داشت. تقاضاي هردو نفر اهل هنود ازهيئات ملل متحد ووسايل اطلاعات جمعي اينست تا آوازشان رابه نمايندگي ازاهل هنود تبعه افغانستان به گوش مردم جهان بخصوص به گوش ملت هند برسانند مردم هند از طريق تظاهرات مانع مداخلات وزارت دفاع و دستگاه جاسوسي شده ودست فوج هند را از افغانستان كوتاه سازند.

والسلام

ع.ع. عزيزي

نامه هاي وارده

يوه اندېښنه

ښاغلي ح. ع م، ر يوسفزي!

دپاڼي په دواړومخوليكلي ليك دي راورسيدهغه موترپايه ولرست ورووره!

له كوموحالاتوچي تاسي گيله لري نه يوازي تاسي بلكي موږهم له ځانه سره شريك وگڼي اوتاسي خوبه شهادت ورځپاڼي لولي چي به هغي كي موږددي ډول حالاتودمخنيوي په خاطربكتي خپرو، خوخداي دي وكړي چي ددغسي حالاتو دمخنيوي له پاره لوړاومسئول مقامات جدي توجه وكړي څوروبنامردعمل سره ارخ ولگوي. آمين

##

دشاعري وينا

ښاغلي دلاورسيلاب دشهادت ورځپاڼي اداري ته!

د(هغه ځوان څه شو)ترسرليك لاندي، يوه ټوټه شعرراستولي موږدښاغلي سيلاب شعرولوست داچي ټول شعردنشروړنه ونوله هغه څخه مولاندي بيتونه نشرته وسپارل چي لولي:

ئن دښتي غرونه په ژړادي چي افغان څه شولو؟

زموږپالنيږي چي كوله هغه ځوان څه شو او

ديښمان يسيرانو سره به يي تنگ كولو

ددين دښمن سره به يي هرمورچل كي جنگ كولو

زوي دمسلم، مين په دين قوي ووجدان څه شولو

زموږپالنيږي چي كوله هغه ځوان څه شولو

شهادت:

اميدي چي سيلاب به دخپل شعردبيشونوپه نشريدوخوش شوي وي اوزموږ سره به قلمي رابطه جاري وساتي.

منته

منته كوو

ښاغلي محمدامان الينگاري!

دكاغذ په يوه پاڼه دي ليكلي شعراومضمون اداري ته راورسيد ځرنگه چي شعرمودشهيدناصرخان منصور دمرثي په هكله وبلي خودشعري نيمگرتيا له مخي موټول نشرته ونه سپارلوخوستاسي داحساس داحترام په خاطر مودالاندي كربني نشرته دواندي كري چي لرلي:

په امرانو كي پوځان وي - ډيرپالندرته پهلوان وي

ستاپه مرگ باندي خپه دي ټول لغمانه شهيده ناصرخانه شهادت دي مبارك شه

شهادت:

رښتيا هم چي دناصرخان «منصور» پادونه اودهغه تاريخي كارنامي دپادوني دواوبرموزخ لري چي دهغه دشهكاريوپه هكله ډېر څه نشركړو خودښاغلي محمدامان الينگاري په دي يادونه به موږ هم اكتفا وكړو او ورڅخه منته كوو. په احترام

بگذاريد مردم قضاوت كند نه شهادت نه اتحاد

به اداره محترم شهادت اسلام عليكم ورحمة الله وبركاته

